مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خوشحال آصفي

۲۰۱۹/۰۲/۱۶

# پرون د شوروي او نن د امريکا وتل؛ حالات ورته دي؟



په داسي حال کي چي په وروستيو کي له طالبانو سره د امريکا د خبرو سره په ورته مهال له افغانستانه د امريکايي ځواکونو د وتلو په اړه په کور دننه او امريکا کي ضد او نقيض څرګندوني کيږي؛ افغانستان تېره ورځ له دغه هيواده د سرو لښکرو د وتلو ديرشمه کليزه ونمانځله. له ننه پوره ديرش کاله وړاندي د وخت شوروي اتحاد سرو لښکرو د ځمکي او هوا له لاري په افغانستان يرغل وکړ او د وخت ولسمشر حفيظ الامين يي د کورنی له غړو او دوستانو سره يو ځای وواژه. ببرک کارمل يي لا له وړاندي د ولسمشر په توګه اعلان کړی و.

په همدي شيبه چي سرو لښکرو پر افغانستان يرغل وکړ او حفيظ الامين يي وواژه، ببرک کارمل يي د مړيني خبر د تاجکستان له راډيو څخه خپور کړ. شوروپانو په افغانستان کي نهه کاله تېر کړل او د وخت مجاهدينو يي پر ضد د امريکا په مالي او تجهيزي ملاتړ چي د پاکستان له لاري ورته ورکول کېده؛ جهاد وکړ. بلاخره د ۱۹۸۸ ميلادي کال د اپريل مياشتي په ۱۴مه نېټي د جينوا پرېکړي له مخي روسانو له افغانستانه وتل پيل کړل. دغه بهير يو کال وخت ونيوه يعني د ۱۹۸۹ ميلادي کال د فبروري د مياشتي په ۱۵مه نېټه بشپړ شول.

له افغانستانه د روسانو وتلو سره خلکو داسي انګېرل چي ګويا سوله به رامنځته شي، خو هر څه برعکس شول او د سولي پر ځای جګړو او ورانکاريو د افغانستان بڼه بدله کړه. که څه هغه مهال د ډاکټر نجيب الله حکومت د وخت مجاهدينو ته د سولي وړانديز وکړ خو مجاهدينو ورسره موافقه ونه کړه او جګړي لا هم زور واخيست.

**د روسانو له وتلو وروسته ولي جګړي زور واخيست؟**

په دي اړه چي ولي د روسانو له وتلو وروسته هم سوله رانغله او جګړو زور واخيست؛ په اړه يي بېلابېل نظرونه شتون لري. مجاهدين صاحبان وايي چي د جينوا په تړون کي د افغانستان د سولي او نظام په اړه روښانه تګلاره موجوده نه وه چي پر اساس يي افغانستان د داسي قوي نظام څښتن نه شو چي هم په کور دننه پري تولي ښکېلي غاړي يوه خوله وای او هم د نړيوالو هيوادونو له ملاتړه برخمن وای.

خو په عامو خلکو او يو شمېر کارپوهانو سره داسي باور دی چي ګويا د واک په سر د مجاهدينو جنجالونو، د شوروپانو له وتلو وروسته د روسانو او ډاکټر نجيب د حکومت د اړيکو سړوالی او د جينوا په تړون کي په افغانستان کي د بنه نظام رامنځته کولو په اړه د نړيوالو بي توجهي او پلان نه لرل، د دي سبب شول چي افغانستان د جنګونو په ميدان بدل شي. ځکه کله چي روسان له افغانستانه وتل نو د ډاکټر نجيب الله سره د مرستي ژمني هم کړي وي خو کله چي ډاکټر نجيب الله له افغانستانه د روسانو د وتلو ورځ له روسانو څخه د نجات د ورځي په نوم نمانځله نو دغه چاره سبب شوه چي د کابل او مسکو اړيکي سړي او د پاکستان له ملاتړه د برخمنو مجاهدينو پر مټ د ډاکټر نجيب الله حکومت سقوط شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**آیا نن او پرون حالات یو شان دي؟**

په داسې حال کې چې اوسمهال د طالبانو او امریکایانو تر منځ د سولې په خبرو کې له افغانستانه د امریکایې سرتیرو د وتلو خبره ډېره مطرح کیږي، او په خوا کې ورسره طالبان هم له افغان حکومت سره له خبرو انکار کوي؛ دغې چارې دلته د عامو خلکو سره دا اندېښنه پیدا کړې چې ګویا یو ځل بیا د مجاهدینو د وخت تجربه تکرارېدونکې ده.
ځکه هغه مهال هم مجاهدینو د ډاکټر نجیب الله له حکومت سره له خبرو انکار کاوه او اوس طالبان هم د افغانستان له حکومت سره د سولې له خبرو انکار کوي. هغه مهال هم روسان له افغانستانه ووتل او افغان حکومت د پاکستان له ملاتړه برخمنو مجاهدینو ته پاتې شو او اوس هم که امریکایان وځي نو طالبان چې د پاکستان، ایران او روسیې له ملاتړه برخمن دي؛ د افغانستان په سیاست کې راګډېدونکي ښکاري.

اوسني او پخواني حالات په یو تفاوت سره نور بیخي ورته دي. تفاوت دا دی چې هغه مهال ولس د پاکستان په مکارتوب دومره نه و آګاه او داکټر صاحب نجیب الله یې مقاومت لپاره ځان ته و، خو اوس مو ولس د پخوا په پرتله د پاکستان په نیت ښه پوه او اشرف غني هم د نړیوالو له ملاتړه برخمن دی. بیا هم که طالبان د مجاهدینو له تیرو اشتباګانو عبرت نه اخلي او بیا هم خپلې سرزورۍ ته ادامه ورکوي او له حکومت سره خبرو ته نه حاضریږي نو ډیر ژر دی چې سبا به طالبان هم له خپل اوسني دریځ پښیمانه او ولس ته بې جوابه پاتې وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ